مَنْ قَالَ بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ، فِي الْأَرْضِ، وَلَا فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، لَمْ تُصِبْهُ فَجْأَةُ بَلَاءٍ، حَتَّى يُصْبِحَ

له ابان بن عثمان څخه روايت دی وايي چې ما له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه اوربدلي چې ويل يې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوربدلي چې فرمايل يې: «مَنْ قَالَ بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ، فِي الْأَرْضِ، وَلَا فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، لَمْ تُصِبْهُ فَجْأَةُ بَلَاءٍ، حَتَّى يُصْبِحَ، وَمَنْ قَالَهَا حِينَ يُصْبِحُ ثَلَاثُ مَرَّاتٍ، لَمْ تُصِبْهُ فَجْأَةُ بَلَاءٍ حَتَّى يُمْسِيَ»، «چا چې دري ځلې: بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ، فِي الْأَرْضِ، وَلَا فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ، وويل، پر هغه به تر سهاره پورې هېڅ ناڅاپي آفت نه راځي، او چاچې سهار مهال دري ځلې وويل: نو پر هغه به بېګا پورې هېڅ ناڅاپي آفت نه راځي، وايي: نو أبان بن عثمان فالج وواهه، بيا به هغه سړي ورته کتل چې دا حديث يې ترې اوربدلی و، نو هغه ورته وويل: څه دي چې ماته راګورې؟ قسم په الله که ما پر عثمان دروغ ويلي وي، او نه عثمان په پېغمبر صلى الله عليه وسلم دروغ ويلي دي، خو په کومه ورځ چې دا څه راورسېدل چې رارسېدلي دي په هغه ورځ غصه شوی وم او د دې دعا ويل راڅخه هېر شوي و.

[صحيح دی] [ابو داود، الترمذي او النسائي په الكبرى کې او ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې هره ورځ د سهار له لمانځه وروسته او د هرې شپې په ماښام کې له لمر لوبدو مخکې دري ځلې (بسم الله) ووايي: يعنې د الله په نوم مرسته غواړم او ځان پرې له هر ضرري ځيز څخه ساتم، هغه ذات چې له نوم سره يې هېڅ شی ضرر نه شي رسولی که څه هم هر څومره لوی وي؛ نه په ځمکه کې او هغه آفتونه چې ترې راوځي او نه په اسمان کې او هغه آفتونه چې ترې رانازلېږي، او هغه زمونږ ويناوو لره اوربدوکی او په احوالو مو پوه دی. چا چې دا دعا د شپې له خوا وويله نو تر سهاره به ورته هېڅ آفت نه رسيږي، او چا چې د سهار له خوا وويله نو تر بېګا پورې به ورته هېڅ آفت نه رسيږي. نو د حديث راوي چې أبان بن عثمان دی فالج وواهه؛ هغه ناروغي چې د بدن يو اړخ پکې لوبږي، نو هغه سړي چې دا حديث يې له أبان څخه اوربدلی و أبان ته به يې په تعجب سره کتل! نو هغه سړي وويل: ولې راګورې؟! قسم په الله چې پر عثمان مې دروغ نه دي ويلي، او نه عثمان پر پېغمبر صلى الله عليه وسلم دروغ ويلي دي، خو په کومه ورځ چې دا څه راورسېدل چې الله راته ليکلي و، داسې ورځ وه چې زه غصه شوی وم، نو راڅخه هېر شول چې دا ياد اذکار ووايم.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6093